# ناټو« NATO «
# او
# دناټو« NATO «  پيژندنه !

دانټرنيټ دفارسی سرچينوڅخه

ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

## شپږمه برخه

## دشمالی اتلانتيک دتړون پوره متن !

واشينګټن داپريل دمياشتی (۴) څلرمه نيټه د۱۹۴۹ ميلادی کال

ددی تړون لاس ليک کوونکی هيوادونه يو بل ځل خپل هوډ اودريځ يې دملګروملتونو دمنشور داصولواودموخو پرمراعات کولو،منلواوپه نظرکې لرلوسره يې منی اوخپله غوښتنه دنړی دټولوملتونواودولتونوسره په سوله يزه توګه دسولی او آرامتيا په فضا کې اعلانوی او پری ټينګار کوي .

دشمالی اتلانتيک دتړون غړي هيوادونه دآزدی دساتنی ،اودخپلوملتونودګډ ميراث اوتمدن څخه ساتنه ددموکراسی اوفردی آزاديواودقانون دواکمنی اودحکومتی واک پر اصولواوپربنسټ باندی دغه فاکتورونه چې په مثبته توګه رامنځته سوی دی،دهغه نه په کلکه ملاتړ کوي . دغه هيوادونه پريکړه يې کړی ده چې په خپل زياراوهاند سره دټوليز دفاع اود سولی اودامنيت دساتنی په خاطر يووالی جوړاوخپل هيوادونه ددی پروسي په تحقق ورکولوسره متحد يې کړی .اوله همدی کبله دشمالی

اتلانتیک دتړون سره موافقت کوي اودلاندنی مطالبو اوموضوعاتو په پاملرني سره خپلی دندی ترسره کوي اوپرمخ وړي :

(۱) لمړی ماده : په هم هغه ډول سره چې دملګروملتونودسازمان په منشور کې اشاره ورته سوی ده،ددی تړون لاسلیک کوونکی هیوادونه هم په همدی ډول سره منلی دي که هرډول نړیوال کړکیچ او اخ اوډب چې ممکن وی په هغه کې واک اورول ولري دسوله یزه لاری نه حل اورامنځته سوی پیښي له منځه یوسي ، په هغه ډول اودریځ سره کوم چې نړیواله سوله ،امنیت اوعدالت دخطره سره مخامخ نسی ، هغوی منلي دي اوددی دریځ پلویانو دی چې په خپل منځ کې یووبل ته ګواښ نه وي اویودبل په وړاندی دی دځواک ،واک اوزوره څخه کار وانخلی اوکه دغسی پیښي چې په هر بڼه ،ډول اوانځور سره دملګروملتونودموخوپرخلاف وي هرومرودی مخنیوی ورځینی وکړي .

(۲) دوهمه ماده – دغه ماده اصلاًدسولی اوثبات دشرایطوپه لوړوالی کې دپرمختګ پرلور دسیاسی مرستوزیاتوالی دناتودغړیوهیوادونوپه منځ کې دی،چې په همدی ډول سره یې سرلیک کړی دي :دولتونه دنړیوالوسوله یزواودوستانه اړیکودپراختیا پرلور، دآزاده ارګانونواونهادونو په ملاتړ کولواورامنځته کولوسره به په بڼه پوهه اوپوهاوی سره دهغواصولو پربنسټ باندی چې دغه ارګانونه اونهادونه دهغه څخه جوړسوی اورامنځته سویدی ،دسولی،ثبات اودپرمختګ په رامنځته کولوکې به مرستي وکړي . دوي دیرغلونودله منځه وړلوپرلور په نړیوال اقتصادی سیاستونوکښې په خپله یې حرکت کړی اوپه خپل منځ کې به دمرستی زمینی رامنځته کړي .

(۳) دریمه ماده – دولتونه ددی تړون دموخودلازیات لاسته راوړلوپه منظورسره ،په ځانګری اویا په ټولیزه توګه سره په خپل واک اودیودبل سره په مرسته کولوسره په دوامداره اوګټوره توګه په ځانګړی اوټولیزظرفیتونو سره ځان یې ساتلی اوپراختیایي ورکړی ترڅودوسلوالو یرغلونوپه وړاندی ودریږی اومقاومت دی وکړاي سی .

(۴) څلرمه ماده – دولتونه کوم وخت چې خپل دڅیړنی اومطالعی پربنسټ خپل دمځکی اوخاوری بشپړتیا،سیاسي استقلال اوامنیت دخطره سره وویني ،یودبل سره په مشوریو اوخبراترولاس پوري کوي .

(۵) پنځمه ماده – دولتونه یودبل سره همږغه دی که پریویا پرڅوغړیو هیوادونوباندی په اروپا یا شمالی امریکا کې کله چې دیوبل هیواداویا دنوروهیوادونو لخواڅخه پریو یا څوهیوادونوباندی وسله واله یرغل ترسره سی نودغه یرغل پرټولوغړیوهیوادونوباندی ګڼل کیږی اوپه پایله کښی ټول غړي هیوادونه موافقه سره کوي په هغه صورت کې که دغسی یوه پیښه رامنځته کیږی هریوددي هیوادونوڅخه دځان ددفاع دحق په عملی کولوسره په ځانګړی توګه اویا په ټولیزه توګه سره

دملګروملتونودسازمان دمنشور د(۵۱) یوپنځوسمی مادی پربنسټ ،هغه دولت اویا دولتونه چې تریرغل لاندی راغلی دی دکیدونکی اړین پیل په ذریعه هغه څه چې اړتیا ورته پیداکیدی سی په ځانګړی اویا ټولیزه توګه دغړیو هیوادونوپه مرستی سره دفاع ترسره کوي اودتیری مخه نیسی،ترڅوپه اروپایی اویا داتلانتیک دسیمی په هیوادونوکښې بیرته امنیت رامنځته سی اوکیدی سی چې دغه کړنه دوسله والوځواکونوپه ګډون اوکارولو سره ترسره سی .اودهرډول پریکړنده وسله وال یرغل اوکیدونکی پیل دنتیجی څخه سمدلاسه دملګروملتونودامنیت وشوراته به راپوروړکول کیږی اودغه کیدونکی پیل اوکړنه هغه وخت تم کیدی سی اودره ول کیږی چې دملګروملتونودامنیت شورادنړیوال سولی اوامنیت په راوستلوکښې کیدونکی اړین پیل اوکړنه رامنځته کړی .

دشمالی اتلانتیک دتړون (۵ مه )پنځمه ماده ددی تړون زړه بلل کیږی اوددی مادی پربنسټ هرډول وسله وال یرغل پریویا پرڅولاسلیک کوونکی هیوادونو(غړیوهیوادونو) باندی ،دغه یرغل پرټولوغړي هیوادونوباندی تیری اویرغل ګڼل کیږی او ټول غړي هیوادونه په یووالی سره ددی تیری اویرغل په وړاندی دریږی .

دمنشوردغه ماده ددی نظامی تړون تاریخی بریالیتوب جوړه وی اورامنځته کوي ،وروسته دسپټامبر د یوولسمی (۱۱می) پیښی نه په (۲۰۰۱) میلادی کال کې دسپټامبرپر( ۱۲مه)دوولسمه نیټه باندی دناټوغړي هیوادونه ددی نظامی تړون د(۵ می) پنځمی مادی په نظرکې لرلوسره دشمالی اتلانتیک دتړون دټولیزی دفاع دمقرراتوله مخی نه هرډول تیری اویرغل پرهریوغړی هیواد باندی یاپرټولوغړیوهیوادونوباندی ګڼل کیږی ، دیوعکس العمل په ترڅ کی دیوه پراخه یرغل په کولوسره پرافغانستان باندی ددی پیل نښی اونښانی تردا اوسه پوری په دی هیواد کې ددی نظامی تړون دغړیوهیوادونودکړنوښکارندوی دی . ترمخه دشمالی اتلانتیک دسازمان دمنشوروډېرو

مهموموادوته اشاره وسول ،ددی تړون نورې مادي ددی لیکنی په لاندنی متن کې یې په لاندی توګه سره لولو.

(۶) شپږمه ماده – : دغه تړون په اروپا کې دناټودغړیوهیوادونواوهمدارنګه دشمالی امریکا دجغرافیاوی پراختیا،دغړیوهیوادونودمځکی دبشپړتیا ،د الجزایر په هیواد کې دفرانسی ترکنترول لاندی سیمی ،یوشمیر مځکی اوجزیری چې دشمالی اتلانتیک دغړیوهیوادونودهر هیوادتړواک لاندی دی ،او دشمالی مدار راس السرطان دځواکونو،دالوتکواو دکښتیو په هکله چې په دی جغرافیاوي حوزی اوسیمی کښې شته والی لري اوپه غړیوهیوادونوپوری اړه لري، تړاکی یې .

(۷) **اوومه ماده – :** دغه تړون هیڅوخت په هیڅ ډول سره دملګروملتونودمنشوردحقوقو اوهغه الزاماتو چې لاسلیک کوونکو دولتونه دملګروملتونودسازمان دغړیوپه توګه دامنیت دشورا لمړنی مسؤولیتونه یې دنړیوالی سولی اودامنیت درامنځته کولو اودتامینولو دپاره یې منلی دي هیڅکله یې ترتاثیرلاندی نه دی راوستلی اونه باید چې په ډول سره تفسیر اوګڼل سی .

(۸) اتمه ماده - : دغړیوهیوادونوڅخه هریویې اعلانوی چې دنړیوالوهوډونو ،تعهداتو اومنل سوی موادو څخه چې داجراپه حال کې دی اودلاسلیک کوونکوغړیو هیوادونواونوروهیوادونوسره ددی تړون دګټوسره په ټوپیر اوتیری کې نه وی،هر یویې په همدی ډول سره هوډمن اومتعهد دي چې وبل یو داهسی تړون اونړیوال هوډته به ورګډ نه سی اوپه کې ګډون به ونکړی چې داوسنی تړون سره په ټوپیر اوتیرې کې وي .

(۹) نهمه ماده - : غړي دولتونه له همدی کبله شوراګانی رامنځته کوي ،چې ټوله هغه غړي هیوادونه په هغه کښې استازی به ولري ،ترڅوددی تړون تراجراآتواوکړنولاندی واړوند مسایلوته پاملرنه اووسی اوتر کنترول لاندی ونیول سی .اودغه شوراګانی داړتیا وړنورارګانونه رامنځته کوی اوجوړه وی یې ،خصوصآ شورا به ژر اوپه ګړندی توګه سره به یوه دفاعی کیمټه رامنځته کړی اودپیل په پرځای کولوسره لاربشودنه ددی تړون و (۳) دریمی،(۴) څلرمی او(۵) پنځمی ماده ته کیږي .

(۱۰) لسمه ماده - : غړي دولتونه ممکن چې درایوپه ټولیز ډول سره ددی تړون داصولو دټنګښت دپاره اودشمالی اتلانتیک په سیمه کښې دامنیت سره دمرستی دپاره دنورو اروپایی هیوادونوڅخه ددی تړون و غړیتوب ته بلنه ورکوي ترڅوددی تړون غړیتوب ترلاسه کړی .هرهغه هیواد اودولت چې په دی ډول سره رابلل کیږی کولای سی چې ودی تړون ته دغوښتن لیک په ورسپارلوسره دامریکا دمتحده ایالاتونوسره په پیوستن اویووالی سره ددی نظامی تړون غړیتوب ترلاسه اوددی نظامی تړون غړی دی سی ،اودامریکا هیواد دغه غوښتنلیک ونورو هیوادونوته دخبرتیا دپاره ودوي ته یې اعلانوي اودوي ته اطلاع اوخبرورکوي .

(۱۱) یوولسمه ماده - : دهرهیواد داساسی قانون پربنسټ دغه معاهده به تصویب وي او دمتن ګټه به یې ترکاراواجراآتولاندی ونیول سی ،اوتصویب سوی اسناد دی ژردامریکا ودولت ته دی وسپارل سی اودامریکا هیواد ددغه ډول اسنادو لاسته راوړل دی په ګړندی توګه سره به و (لاسلیک کوونکو) غړیوهیوادونوته راپوراومعلومات ورکړی .دغه تړون دهیوادونوپه منځ کی چې تصویب سوی دی سمدلاسه دټولوغړواویالویه برخه( اکثریته برخه )تصویب کوونکوهیوادونه لکه : بیلجیم، کانادا، فرانسه، لوکزامبورګ، هالنډ، انګلیس او متحده ایالاتونو دتصویب څخه عبارت

دی،اوبیا وروسته ،دکارونی اود اجرااتوورﮍبه وګرځي .دغه تړون دنوروهیوادونواودولتونودپاره داسنادودسپارلواو تصویب اوپرکړی دنیټی اوتاریخ څخه داجرااتوورﮍبه وي .

(۱۲) دوولسمه ماده - :دلسوکالنوپه تیریدوسره ددغه تړون داجرااتواوکړنوڅخه اویا وروسته دهغه نه په هغه صورت کي چي دغړیو دولتونوپه وړاندیزسره ،غړي دولتونه دتړون دنوي لړلیدپه هکله یودبل سره مشوري کوي اوپه دی لړ کي هغه فاکتورونه اوفاکتونه چي دشمالی اتلانتیک په سیمه کښي سوله او امنیت ترخپل تاثیر لاندی راوړي اووسولی اووامنیت ته ګواښ وبلل سی ، اودنړیوالو اوسیمیزو مسایلودپراختیا په هکله دنړیوالی سولی اوامنیت دتامنیولواودرامنځته کولودپاره دملګروملتونودسازمان دمنشورپر بنسټ ، پاملرنی اونظرکي نیولو سره خپلی اړوندی چاري ترسره کوي .

(۱۳) دیارلسمه ماده - : د شلوکالنوپه تیریدوسره ددغه تړون داجرااتواوکړنوڅخه ددی غړیوهیوادونوڅخه هریو یي کولای سی چي وروسته دیوی اعلامیی په وړاندی کولواوخپره ولوسره ددی تړون څخه خپل دنه غړیتوب اوپه دی تړون کي دګوښه کیدو نه دامریکا دمتحده ایالاتو ودولت ته وړاندیزوکړی اوددی تړون څخه ووځي اودامریکا متحده ایالاتونه وروسته ددی وړاندیزدترلاسه کولوڅخه مکلف اوموظف دی چي دغه اعلامیه دغړیوهیوادونو واطلاع اوخبرتیا ته ورسوي .

(۱۴) څلورلسمه ماده - : ددی تړون ټول مطالب اومتنونه چي په انګلیسی اوفرانسی ژبوباندی لیکل سوی ،په دواړه ژبو معتبراوددرنښت وړ دی ،اودتړون نوموړی اسناد دامریکا دمتحده ایالاتونوودولت ته د ساتلودپاره سپارل کیږی .

ددندی له مخی نه ،دامریکا دمتحده ایالاتونودولت هم په همدی ډول سره دتړون اسناد وروسته ترتصویب اوپریکړی نه دکاپی په ډول دتړون ولاسلیک کوونکو(غړیوهیوادونو)ته ورلیږی،اوبیاتراجرااتواوترکارلاندی راوړل کیږی،دغه تړون د )۱۹۴۹) میلادی کال داګوست د(۲۴)څلرویشتمی نیټی نه د لاس لیک کوونکوغړیوهیوادونو،دمنل سوواوتصویب سوواسنادو وروسته داجرا اتووړ وګرځیدی . دخاوری دبشپړتیا تعریف چي په(۵) پنځمه ماده کي وهغی ته اشاره سوی دی دشمالی اتلانتیک دپیوستون دپروتوکول د (۲) دوهمی مادی په وسیله چي په (۱۹۵۱) میلادی کال کي داکتوبر پر(۲۲) دوه ویشتمه نیټه باندی دیونان اودترکیی دپیوستون په اړه دیوی نوي لړلید وړ وګرځیدی . په (۱۹۶۳) میلادی کال دجنوری پر(۱۶) شپاړلسمه نیټه باندی ،دشمالی اتلانتیک شورا اعلان وکړ: ددی تړون هغه بندونه چي دالجزایردهیواد په اړه، چي

دفرانسی دحکومت تړواک لاندی دی د(۱۹۶۳) میلادی کال د جولاې دمیاشتی څخه داجرااتو وړی ندی .

دغه تړون په (۱۹۴۹) میلادی کال کې داګوست پر(۲۴) څلرویشتمه نیټه باندی وروسته داسنادودسپارولوڅخه چې دټولوغړیوهیوادونوله تصویب اومنلو څخه صورت وموند داجرااتووړاوتر کارلاندی واچول سول . همدارنګه په هم هغه ډول سره چې دشمالی اتلانتیک دنظامی تړون ( ۹،۵،۳ مه)دریم ،پنځم اونهمه ماده ترملاحظی اونظرلاندی تیرسو،دشمالی اتلانتیک تړون دسیاسی یووالی ،دنظامی یووالی اوټولیزدفاع بنسټ جوړه وي اوپه همدی ډول سره ددی منشور (۲) دوهمه ماده دغړیوهیوادونو پرسیاسی اواقتصادی چاروباندی څرګندونی اوټینګاریې کړی دی ،له دی کبله دشمالی اتلانتیک نظامی تړون دوه اړخیزه اودوه برخه لرونکی ده .دیوی خوانه واقتصادی اووټولنیزو پرمختګونوته ارزښت ورکوي اوهغه تائیدوی،منی اوملاتړورڅخه کوي ،دبله خوانه پریوی پریکړنده امنیتی سیاست باندی ټینګار کوي چې په ریالسټیک او واقعی توګه سره دټولیزدفاع نه ملاتړ وکړ ي . اوس چې ددی نظامی تړون څخه همدا سی څیړنه اوپوهه ترلاسه سو ،چې دشمالی اتلانتیک تړون،نظامی سازمان (ناټو) په هکله مو څه ناڅه معلومات ترلاسه کړ،بیاکیدی سی چې وویل سی ددی کاردکړنی دډول په هکله ویلی سوچې ددی دفاعی تړون غړیوهیوادونه لاندنی ګټې دځانه سره لري .

(۱) لمړی- : ددفاعی تړون په رامنځته کولو سره کولای سی چې دهیواد واکمنی په خپله خوښه په مسلکی اوانجینری توګه سره دهیواد په امنیتی فضا کښې پراختیا ورکړی .

(۲) دوهم- : ددفاعی تړون په رامنځته کولو سره کولای سی : (دګواښ په شرایطوکښې) دهیواد دامنیتی کیدو اوځانله کیدوڅخه مخنیوی وکړي .

(۳) دریم - : ددفاعی تړون په رامنځته کولو سره کولای سی ( دګواښ په شرایطوکښې ) دنوروهیوادونودځواکونودراټولیدو اوائتلافونودجوړه ولوڅخه دیرغل دپاره پربل هیواد باندی دمخنیوی سبب وګرځي .

(۴) څلرم - : ددفاعی تړون په رامنځته کولو سره کولای سی چې دیوهیواد دځواکونوواک دلویو قدرتونو اوستروهیوادونودهژمونی غوښتنی اویواړخیز ځواکمن کیدوپه وړاندی پراختیا ومومی .

(۵) پنځم - : ددفاعی تړون په رامنځته کولو سره کولای سی چې دهیواد ځواک او واک په سیمه کښې دکړکیچونوپه مدیریت کولوسره پراختیا ورکړی .

(۶) شپږم - : ددفاعی تړون په رامنځته کولو سره هیواد کولای سی چې دخپل واکمنی په شرایطوکښې وخپل نظامی لوړتیا ته په ګټورتوګه سره پراختیا ورکړی او لوړ یې بوزي .

(۷) اووم - : ددفاعی تړون په رامنځته کولو سره کولای سی چې دفرصتونوڅخه په کاراخیستنی سره د ظریفتونو په پاملرنی سره دګوابښونوپه وړاندی ودریږی اوو هغه ته پراختیا ورکړی .

(۸) اتم - : ددفاعی تړون درامنځته کولو سره کولای سی اړوند هیوادخپل امنیت په څواړخونواوبعدونوسره مطرح کړي اوپه همدی ډول سره اقتصادی سیاستونه کولای سی چې داقتصادی پلوه هم مثبت اوګټوراغیزه دغړی هیواد دپاره دځان سره ولري . /

(نوربیا،په اوومه برخه کې ادامه لري)

**اخيځليک :- دايسنا نيوز څخه . او د military.ir څخه .**